عمومي اسامبله

امنیت شورا

خپریدل: عمومي
۱۰ اګست ۲۰۱۷
اصل: انګلیسي

**عمومي اسامبله**
**دوه اویایمه ناسته**
د اجنډا ۳۹ ماده*
**د افغانستان حالت**

**د امنیت شورا**
**دوه اویایم کال**

# په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) د ستراتیژیکې بیا کتنې په اړه ځانګړی راپور

## د عمومي منشي راپور

### لومړی: پیژندنه

۱. اوسنی راپور د امنیت شورا د ۲۳۴۴ (۲۰۱۷) پریکړه لیک د ۷ پاراګراف سره سم، وړاندې کیږي، په کوم کې چې شورا له ما څخه غوښتي و چې د ماموریت د اغیزمنتوب او ګټورتوب د ارزونې په موخه د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) ستراتیژیکه بیا کتنه ترسره کړم، څو د ملګرو ملتونو اړوندو ادارو ترمنځ د غوره همغږۍ د یقیني کولو لپاره د کار له ویش څخه پوره ګټه واخیستل شي. دغه راپور د ماموریت د ژورې بیا کتنې پر بنسټ د سپارل شویو دندو، لومړیتوبونو او د یوناما تنظیمونې په تړاو د ستراتیژیکې بیا کتنې او زما سپارښتنې رانغاړي.

۲. د ستراتیژیکې بیا کتنې تیم، چې مشري یې د عراق لپاره زما د ځانګړي استازي له خوا کیده، د ۲۰۱۷ په مئ او د جون په لومړیو کې په افغانستان او نیویارک کې د ولسمشر، اجرائیه رییس، د کابینې د غړو، د پارلمان او سیاسي ګوندونو د کلیدي غړو، د مدني ټولنې د سازمانونو، د ښځو د ډلو او د ډیپلوماتیکې او مرستندویه ټولنې، د ملګرو ملتونو د ادارو، بسپنو او پروګرامونو او نادولتي سازمانونو د استازو په ګډون، له زیات شمیر شریکبانو سره وکتل. دغې بیا کتنې همدارنګه په ۲۰۱۲ کال کې ترسره شوې جامع بیا کتنه (A/66/728-S/2012/133 وګورئ)، او د هغه راوروسته د کلونو په ترڅ کې داخلي ارزونې او د ملګرو ملتونو په اړه د بیا کتنې د درې اړخیز کمیسیون وروستی راپور (S/2015/713 وګورئ) چې د ۲۰۱۵ په سپتمبر کې د امنیت شورا ته وړاندې شوی، په پام کې نیولي. په پای کې، په دغه راپور کې د ۲۰۱۷ کال د جون پر ۱۴ له کابل څخه زما شخصي کتنه ، چیرې چې ما د افغانستان له ولسمشر اشرف غني او اجرائیه رییس عبد الله عبد الله، او دغه راز د یوناما له لوړ پوړي مشرتابه او د جګړې له امله له بېځایه شویو وګړو سره ولیدل، منعکس شوی.

۳. له دغې ستراتیژیکې بیا کتنې راولاړیدونکې سپارښتنې د ۲۰۲۰ تر پایه د ملګرو ملتونو د شتون او ښکیلتیا د چمتوالي لپاره تنظیم شوې، هغه زماني موده کومه چې په ۲۰۱۶ کال کې د بروکسل او وارسا په سرمشریزو کې د مالي او نظامي مرستو لپاره ټاکل شوې، چې له دې لارې به په افغانستان کې له همغږي شوي نړیوال ګډون او شتون سره مرسته کوي. باید د دې یادونه وکړم، سره له دې چې سپارښتنې په افغانستان پورې مشخصې دي او د وضعیت

* A/72/150

او د يوناما د رول تر ژورې کتنې وروسته رامنځ ته شوي، په اوسنيو نړيوالو شرايطو کې د ملګرو ملتونو د شتون لپاره زما له پراخ ليد لوري سره په سمون کې دي. په ځانګړې ډول، دغه سپارښتنې د سولې جوړونې د يوه پراخ درک پر بنسټ، چې پر سياسي فکتورونو، چې اقتصادي، ټولنيز او سازماني هغه رانغاړي، ټينګار کوي، د جګړې د مخنيوي او د سولې ساتلو پر لومړيتوب تاکيد کوي. دغه سپارښتنې همدارنګه د سولې د عملياتو په اړه د لوړې کچې د خپلواک پلاوي له سپارښتنو (A/70/95-S/2015/446 وګورئ) او په تعقيب يې د پخواني سرمنشي د (A/70/357-S/2015/682) راپور له تطبيق کوم چې د ملګرو ملتونو په کورنۍ کې د هڅو پر يووالي ټينګار کوي او زما له شخصي هوډ سره چې ملګري ملتونه دې په لا زياته همغږې شوې او موثرې لارې د غړو دولتونو لپاره د يوه سيستم په څير چارې ترسره کړي، په سمون کې دي.

## دويم: مخينه

۴. په ۲۰۰۲ کال کې د يوناما له تاسيس راهيسې، د ماموريت نقش د انتقالي پروسې لپاره د ده د رول له لارې تعريف شوی، چې په افغانستان کې د دايمي حکومتي ادارو تر بيا جوړونې پورې په موقتو هوکړه ليکونو کې په ډاګه شوې، کوم چې د ۲۰۰۱ کال په ډسمبر کې د جرمني په بن ښار کې لاسليک شوې، او دغه راز د بن تړون په نامه پيژندل کيږي. د دغه تړون تطبيق تر جګړې وروسته حالت ته پر ليږد متمرکز و، چې وسله وال مخالفت تر يوه بريده د سولې او سوکالۍ د ترلاسه کولو په وړاندې د جدي خنډ په څير ګڼل کيده. تر دغې پيښې په را وروستيو کلونو کې، د اساسي قانون تصويب، د بشري حقونو او مدني ازاديکانو لپاره پراخ حمايت او ساتنه، د ولسمشرۍ او ولسي جرګې لپاره ډيموکراتيکې ټاکنې او د دولتي ادارو جوړونه او زياتيدونکې موثريت تر سترګو شول. له دغو ټولو پروسو سره د يوناما له خوا په بشپړ ډول ملاتړ کيده. په دغو ډګرونو کې له پرمختګ سره سره، د طالبانو په مشرۍ ياغيتوب مخ په زياتيدو شو، په تېره بيا تر ۲۰۰۶ کال را وروسته. د دې مخينې خلاف، افغانستان په ۲۰۱۴ کال کې له يوه منتخب ولسمشر و بل ته د واک د سوله ييز ليږد او د نړيوالو نظامي ځواکونو څخه چې مشري يې د ناټو له خوا کيده، افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو ته د امنيتي مسوولیتونو په ليږد سره يوه نوي پړاو ته داخل شو.

۵. په افغانستان کې د وضعيت په بدليدو سره د يوناما نقش زيات شو او د ماموريت اختيارات او د فعاليتونو کچه لا پسې پراخ شول. د پراخيدو تر پړاو را وروسته، د ماموريت تشکيل د ۲۰۱۱ کال را په ديخوا مخ په کميدو شو. د افغانستان د حاکميت او د دې په منلو سره چې افغان دولتي ادارو د ظرفيت تر لاسه کول جاري ساتلې، يوناما په زياتيدونکې ډول د دولتي ادارو له لومړيتوبونو سره سم حمايت کوونکی رول لوبولی. د واقعي او پام وړ پرمختګ سره سره، افغان دولت لا اوس هم په پراخه کچه په مالي او امنيتي برخو کې پر نړيوالې ټولنې متکي دی. د دولت له ۶۰ سلنې څخه زياته بودجه د بهرنيو مرستندويانو له خوا تمويليږي، او له دې سره سره چې بې شميره منابع پر اداره جوړونې لګول شوې، خو داسې ښکاري چې د ناورين په شيبو کې افغان ادارې د سترو ګټو او خواوو ترمنځ چې د تاوتريخوالي خپلواک ظرفيتونه لري، په جوړجاړي کولو کې په کافي اندازه اغيزناکې نه دي.

۶. دغه داخلي سياسي سيالۍ په داسې شرايطو کې ترسره کيږي، په کومو کې چې د دولت مشروعيت د طالبانو د ياغيتوب له خوا ننګول شوی. د بن هوکړه ليک د تطبيق په لومړيو کلونو کې، داسې اټکل کيده چې ياغيتوب به کنترول يا له منځه يوړل شي، خو وروستيو پيښو د دغه اټکل خلاف بل څه ثابت کړل. نو له همدې امله سياسي حل اړين دی. د دغې موخې د تر لاسه کولو لپاره په تيرو څو کلونو کې د خبرو اترو پيلولو هڅې شوې، خو تر اوسه يې د پام وړ زور نه دی اخيستی.

۷.	دا هغه عمومي چاپېريال دی، په کوم کې چې اوس مهال ملګري ملتونه فعالیت کوي، چې دغه حالت د هغو ترمنځ چې د اساسي قانون نظم مني د نازک سیاسي توافق او د هغو ترمنځ چې دغه نظم نه مني د زیاتیدونکي تاوتریخجن او دوامدار یاغیتوب سره مل و. د دغو چارو د ترسره کولو لپاره د خپلو فعالیتونو د بیا تنظیمولو غوښتنه کوي. زه په کلکه د دې سپارښتنه کوم چې په راتلونکو څو کلونو کې د ماموریت ستره موخه دا وي چې د ټولو هغو هڅو ملاتړ وکړي چې په افغانستان کې پاییدونکې سوله او ځان بساینه تر لاسه شي.

۸.	دغه ستراتیژیکې بیا کتنې وضعیت ارزولي او په دې اړه یې سپارښتنې کړي چې یوناما او په پراخه کچه د ملګرو ملتونو سیستم څرنګه د سترې موخې ترلاسه کولو ته غبرګون وښایي: له ګاونډیو سره د ښو اړیکو درلودونکی یو با ثباته او ښېرازه افغانستان، چیرې چې بشري حقونه خوندي وي او بنسټیز خدمتونو ټولو ته د لاس رسي وړ وي.

## دریم: د ستراتیژیکې بیا کتنې سترې موندنې

۹.	په افغانستان کې د اوسني وضعیت په اړه کلیدي ملاحظات کوم چې وروستۍ سپارښتنې رهنمایي کوي دا دي، چې افغانستان له جګړې په وروسته حالت (post-conflict) کې نه دی، چیرې چې بسیا ثبات موجود وي څو د ادارو پر جوړونه او د پرمختیا پر بنسټ ولاړو فعالیتونو تمرکز وشي، بلکه هیواد اوس هم د جګړې په حالت کې دی چې د کموالی کم شمیر نښې په ډاګه کوي. دا نه وایو چې پرمختګ نه دی شوی، بلکې دا چې لا اوس هم د رواني جګړې د اغیزو له امله ننګول شوی، کوم چې دغه راز د لاسته راوړنو پایښت هم ګواښي. دا مهمه ده څو په ډاګه شي چې د ادارو جوړول او پرمختیا کیدای شي په جګړه کې هم رامنځ ته شي، خو د ملګرو ملتونو تمرکز اوس باید هغه راز وي چې د دغه راپور په راتلونکو برخو کې په ډاګه شوی.

۱۰.	افغانستان هم د پام وړ سیاسي، امنیتي، ټولنیز- اقتصادي، بشر پالنې او د بشري حقونو له ننګونو سره مخ دی. په داسې حال کې چې د عوایدو د راغونډولو په ګډون ستر اقتصادي شاخصونه ښه شوي، خو د ښاري او کلیوالي وګړو ترمنځ بې وزلي زیاته شوې. د وګړو زیاتې ودې او چټک ښاریتوب تر ډېره د ښاري وګړو لپاره بې کاري رامنځ ته کړې، ځوانان یې ګوښه کړي او د بنسټ پالنې لپاره د زمینې برابرولو پوټنسیال یې رامنځ ته کړي. زیات شمیر ټولنیز فکتورونه د تسل وړ نه دي، لکه د بې کارۍ زیاتیدل، لومړنیو زده کړو، روغتیایي خدمتونو او عدالت ته نابرابر لاس رسی. د هغو وګړو شمیر چې بشري مرستو ته اړتیا لري لوړ شوی. د ښځو د حقونو د ترویجونې او ګډون په برخو کې د پام وړ پرمختګونه ترسره شوي، خو په افغانستان کې ښځې د هیواد په سیاسي، ټولنیز او اقتصادي ډګرونو کې له برابرو فرصتونو نه دي برخمنې. اداري فساد په پراخه کچه هغه کلیدي فکتور ګڼل کیږي چې عامه باور او پر دولتي ادارو یې اعتبار کمزوری کړی چې په دې وسیله جګړې ته سونګ توکي برابروي. له بل پلوه بهتر شوي احتساب او ښه حکومتولي به له ثبات او د سولې د راوستلو سره مرسته وکړي.

۱۱.	د بن پروسې د وختي تطبیق ستره لاسته راوړنه د افغانستان لپاره پر یوه پرمختللي اساسي قانون او د اجرائیه او قضایي قواوو د مشروعیت لپاره د ټاکنو پر ترسره کولو هوکړه وه. په تیرو ټاکنو کې د درغلیو د پراخو تورونو له امله د باور له منځه تلو سره سره، دا ملاحظه شوې چې نن ورځ د افغانانو ترمنځ د یوه قانوني نظام د درلودو پیاوړې هیله شتون لري. د داخلي سیاسي یووالي لپاره دا مهمه ده، چې د ولسي جرګې ټاکنې د مهال ویش سره سم په ۲۰۱۸ او ولسمشریزې ټاکنې په ۲۰۱۹ کې ترسره شي، او دا چې دواړه پروسې د افغان رایه اچوونکو له خوا د باور وړ وګڼل شي.

۱۲. د ملي يووالي حکومت، چې د ټاکنو د پايلو پر سر تر اختلاف وروسته په ۲۰۱۴ کال کې د يوې سياسي موافقې له لارې رامنځ ته شو، اوس هم تر فشار لاندې دی. د ۲۰۱۷ د مې د ۳۱ نېټې د مرګوني برید او په تعقيب يې د لاريون کوونکو او امنيتي ځواکونو ترمنځ د تاوتريخجنو شخړو په څير امنيتي او سياسي پېښو د سياسي نخبګانو اختلاف زيات او د عمومي نارضايتي لامل شوې. دغه برید همدارنګه د نړيوالو ډيپلوماتيکو او پرمختيايي کارمندانو د پام وړ کموالي لامل شو. عمومي نارضايتي د پراخو لاريونونو له لارې په زيات ډول په ډاګه شوه، چې د لا زياتې بې ثباتۍ ويره راپاروي. په داسې حال کې چې ولسمشر او اجرائيه رييس د ملي يووالي حکومت ته خپل ژمنتوب په ډاګه کړی، سياسي وضعيت فرقه يي تورونه چې زياتره له قومي هغو سره مله وي، تر راتلونکو پارلماني او ولسمشريزو ټاکنو مخکې زيات شوي.

۱۳. د افغان دولت او د حزب اسلامي ګلبدين ډلې چې مشري يې د ګلبدين حکمتيار له خوا کيږي او يو وخت د دولت سر سخته وسله وال مخالف و، ترمنځ خبرې اترې او د تړون د يوې برخې پلي کيدل د لاسته راوړنې يوه نښه ګڼل کيږي. که څه هم په سياسي صحنه کې د ښاغلي حکمتيار بيا راڅرګندیدو د يو شمير افغان سياسي فعالينو، او دغه راز د بشري حقونو او قومي اړخونو په اړه د مدني ټولنې د استازو ترمنځ انديښنې زيږولي، خو د سولې دغه تړون د افغان مشرانو دا وړتيا په ډاګه کړه چې کولي شي داسې سختې پريکړې وکړي، چې د سولې لپاره اړينې وي.

۱۴. په تيرو څو کلونو کې په عام ډول امنيتي وضعيت خراب شوی، څرنګه چې تر يوه بريده طالبان د نفوذ په پيدا کولو توانيدلي او د هيواد پر يو شمير سيمو يې ولکه ټينګه کړې. په داسې حال کې چې ښايي د طالبانو ځينو استازو د سياسي حل اړتيا درک کړې وي، او نور يې داسې احساس کوي چې دوي په نظامي ډول برلاسي دي. د کشالې موجوده وضعيت يو ولاړ حالت ته ورته دی چې د ماتيدو په حال کې دی، چيرې چې طالبانو پر زياتو هغو سيمو خپله ولکه زياته کړې، پر کومو چې دوی د سيالي کولو توان لري او پر نورو سيمو يې د کنترول تقويه کول پيل کړي. په عراق او شام کې د اسلامي دولت- خراسان ولايت ډلې راپيدا کيدلو له پخوا يوه پيچلي وضعيت ته يو نوی خطرناک اړخ ور اضافه کړی، که څه هم نوموړې ډله د شمير له مخې په نسبي ډول لا اوس هم کمه ده. ګڼ شمير تروريستي ډلې، چې زياتره يې سيمه ييز او نړيوال اهداف لري او زيات شمير يې بهرنيان دي، د ناثابتو اړيکو پر اساس له ځايي او نړيوالو جنايي شبکو سره کار کوي، افراطيت، نشه يي توکي او وسلې خپروي او د پولو په اوږدو کې تروريزم تمويلوي. د اټکل له مخې په ۲۰۱۶ کال کې د آپيونو توليد له ۳ بيليونو څخه زيات ډالر جوړ کړي، چې زياتره يې له ياغيتوب سره مرسته کوي.

۱۵. افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونه، د ناټو- د غوڅ ملاتړ ماموريت د سلا کارانو په ملاتړ اوس مهال د هيواد ګڼ ميشته مرکزونه اداره کوي، خو په ليرې پرتو سيمو کې يې زياتې سيمې طالبانو ته پريښې. په ملي دفاعي ځواکونو کې له دندې څخه د تيښتې کچه په نا ثابت ډول لوړه ده، چې مورال يې اغيزمن کوي. د افغان ملي دفاعي ځواکونو او د غوڅ ملاتړ ماموريت له خوا اوس مهال يو څلور کلن پلان طرح شوی څو د ملي دفاعي ځواکونو د دې وړ کولو له لارې حالت بيرته عادي کړي، چې وکولی شي په راتلونکو دوو کلونو کې د متقابل برید د قاطعو عملياتو په ترسره کولو سره ځانونه وساتي. دغه کار د نړيوالې ټولنې دوامدار ملاتړ او د دولت پياوړې ارادې ته اړتيا لري.

۱۶. جګړه پر افغانانو په ځانګړي ډول ولسي وګړو د نه منلو وړ زيانونه اړوي. په ۲۰۱۶ کال کې، يوناما له ۱۱۰۰۰ څخه زيات ملکي تلفات (۳۴۹۸ مړه) مستند کړي، چې د تير کال په پرتله تر ټولو لوړ شمير دی او د ماشومانو په تلفاتو کې ۲۴ سلنه لوړوالی په ډاګه کوي. له ۶۰۰۰ څخه د زياتو مړينو او ۱۵۰۰۰ ژوبلو په درلودو سره، ۲۰۱۶ کال د افغان امنيتي ځواکونو لپاره تر ټولو ناوړه کال و او طالبان هم په ورته ډول له لوړ شمير تلفاتو څخه اغيزمن شوي. په ۲۰۱۶ کال کې د جګړې له امله نږدې ۶۵۰۰۰۰ وګړي په داخل کې بيځايه شوي، په داسې

حال کې چې له پاکستان او ایران څخه له ۶۲۰۰۰۰ څخه زیات کډوال او نا ثبت شوي اشخاص هیواد ته راستانه شوي. د ملکي تلفاتو له دوامداري لوړې کچې په تیره بیا د ښځو او ماشومانو ترمنځ او د پام وړ بېځایه کیدنې سره، تر دې وخته په ۲۰۱۷ کال کې د هیواد په یو شمیر برخو کې جګړه سخته شوې.

۱۷.	له طالبانو سره د سولې د خبرو اترو په ګډون د دولت او وسله والو مخالفینو ترمنځ د سولې مذاکرات په افغانستان کې د اوږدې خونړۍ جګړې پای ته رسولو یوازینی بدیل دی. د ۲۰۱۷ په لومړیو کې ولسمشر غني په کابل کې نړیوالو مرستندویانو ته د سولې په اړه خپل لید لوري وړاندې کړ او د جون پر ۶ دولت د سولې او امنیتي همغږۍ په اړه د کابل پروسې کنفرانس ترسره کړ، ترڅو مختلف سیمه ییز او نړیوال نوښتونه تر خپل مشرتابه لاندې راولي.

۱۸.	سربیره پر دې، د افغانستان په اړه نړیواله اجماع چې د لومړنیو بریاوو تر شا کلیدي عامل ګڼل کیده، د له منځه تلو په حال کې ده. د کابل پروسې کنفرانس د دولت دا هوډ څرګند کړ، چې د سولې اوسني څو اړخیز موازي نوښتونه د افغان مشرتابه لاندې راولي. بیا هم په سیمه کې دغه ډاینامیک ښه کولو ته اړتیا لري. د سیمه ییزې همکارۍ د اړتیا لپاره د بې شمیره عامه بیانیو سره سره، په افغانستان کې د سیمې فعالین د دې پر ځای چې په ثبات کې د اړینو مصالحو کولو لپاره د مشترکو سیمه ییزو ګټو لپاره سره ښکیل شي، پر ځای یې د خپلو مشخصو ګټو لپاره ښکیل دي.

۱۹.	د مذاکراتو له لارې د سولې د پروسې لورې ته اووښتون د دې غوښتنه کوي، چې د یوناما - او په پراخه کچه د ملګرو ملتونو د سیستم- رول د بن له تړون او له جګړې په را وروسته حالاتو کې د سولې جوړونې اجنډا له ملاتړ څخه د افغانانو په مالکیت د سولې د هغې پروسې ملاتړ  ته سمون ومومي په کوم کې چې باید بالاخره له طالبانو سره مستقیمې خبرې اترې شاملې وي.

۲۰.	د مرکه ورکوونکو له خوا د دغې ستراتیژیکې بیا کتنې یوه تر ټولو ثابته موندنه د یوه بې پرې فعال په څیر د ملګرو ملتونو د ارزښتناک رول منل او د یوناما هغه ځواک چې کولای شي مختلفې خواوې سره راغونډې کړي، او ټولو سیاسي شریکبانو ته د دغې ادارې لاس رسی و. دغه چاره په ځانګړي ډول په تیرو وختونو کې ګټوره تمامه شوې، لکه په انتخاباتي شخړو کې منځګړیتوب، د ساتنې د موضوعګانو او له بشري حقونو څخه د سرغړونو په اړه راپور ورکونه او له ښکیلو خواوو سره ښکیلتیا او د قانون واکمنۍ او نړیوالو نورمونو بسیجونه. د راپور ورکولو د مودې او ۲۰۲۰ ترمنځ، د دې احتمال شته چې پر یوناما د دې غږ وشي، چې د حکومت د ننه، د حکومت او وسله والو مخالفینو ترمنځ او د سیمې د ننه د مختلفو سیالي کوونکو ګټو ترمنځ د یوه بې پرې فعال په څیر عمل وکړي.

## څلورم: ستراتیژیک لومړیتوبونه: د سولې اهمیت

۲۱.	د افغان خپلواکۍ له اصل او د ملګرو ملتونو د عمده موخې سره په سمون کې چې یو با ثباته او ښیرازه افغانستان توانمند کړي، په افغانستان کې د یوه ځانګړي سیاسي ماموریت او په پراخه کچه د ملګرو ملتونو د سیستم ستراتیژیک لومړیتوبونه باید په دې ډول وي:

(الف) له ټولو فعالینو سره کار وکړي څو د دولت د ننه همغږي بسیج او د داسې ادارو له جوړولو ملاتړ وکړي، چې د نورو کارونو ترڅنګ د سیاسي اختلافونو د منځګړیتوب جوګه وي؛

(ب) د شخړې له ټولو خواوو سره د اړیکو ساتلو په ګډون، د ټولو هڅو ملاتړ وکړي څو داسې شرایط رامنځ ته کړي په کومو کې چې سیاسي حل تر لاسه کیدای شي څو جګړه پای ومومي؛

(ج) د دولت له لومړیتوبونو سره سم، چې د مرستندویانو له خوا په ۲۰۱۶ کال کې په بروکسل کې په ترسره شوي کنفرانس کې تایید شوي، افغان وګړو ته د اړینو خدمتونو له برابرولو او له دې سره مرسته وکړي څو داسې اقتصادي او ټولنیز شرایط رامنځ ته شي، چې پر ځان بساینې او بالاخره پر یوه مذاکره شوې سولې تمام شي.

۲۲. د دغو لومړیتوبونو د تحقق لپاره، ملګري ملتونه باید خپل هنجاري رول او هغه ځواک چې کولای شي مختلفې خواوې سره راغونډې کړي وکاروي څو د هغو سیاسي او قانوني ترونونو په اړه چې د ټولو افغانانو بشري حقونه او بنسټیزې ازادي ګانې خوندي کوي او د افغان ادارو احتساب او ټول شمولیت بسیجوي، اجماع رامنځ ته کړي. پر سولې او د جګړې پر مخنیوي ټینګار د ماموریت په تنظیم کې یو شمیر بدلونونو ته اړتیا لري.

۲۳. په سیاسي، د بشري حقونو او پرمختیایي برخو کې د افغانستان لپاره زما د ځانګړي استازي او د یوناما مشر ستراتیژیک رول خورا مهم دی. د ماموریت د عمومي رهبري په ترسره کولو کې، ځانګړی استازی به د دوو سیاسي او پرمختیایي برخو د څارلو او په دغه راپور کې د وړاندیز شویو ستراتیژیکو لومړیتوبونو په بشپړولو کې د هغوي د همغږۍ د یقیني کولو مسوول وي. ځانګړی استازی به همدارنګه ما ته په دې اړه راپور راکوي، چې هغه/هغې ته د سپارل شوي ماموریت په بشپړولو کې څرنګه د اداري منابع په غوره ډول کارول کیدای شي. دغه کار د ملګرو ملتونو د سیستم او د سیستم د تنظیمیوونکو ادارو، بسپنو، پروګرامونو او همدارنګه د ډونرانو ترمنځ د لوړې کچې همکارۍ او شفافیت غوښتنه کوي.

## پنځم: پیاوړی شوي سیاسي رول

۲۴. په ګوته شوي ستراتیژیک لومړیتوبونه د ملګرو ملتونو په دریو برخو (pillars) کې د شخړې د مخنیوي، شخړې د حل او سولې جوړونې پر یو ځای کیدنې زما له ټینګار سره سم د ماموریت په ټولو اساسي چارو کې د سولې هڅو ته د نوي شوي اهمیت ورکولو غوښتنه کوي. دغه کار همدارنګه یوه داسې اداري جوړښت ته چې د ماموریت سیاسي ظرفیت پیاوړي او یوناما توانمنده کوي اړتیا لري، همدارنګه پرمختیا، تر هغه بریده چې د بشرپالنې اصولو رعایت کوي، او د ملګرو ملتونو بشري فعالیتونه ، باید زما د ځانګړي استازي تر مشرتابه لاندې د سولې له هڅو سره په هر اړخیز ډول مرسته وکړي.

۲۵. د سیاسي څانګې مشري به د ځانګړي استازي د مرستیال له خوا کیږي، څوک چې به د سیاسي موضوعګانو په اړه د ځانګړي استازي ستر سلاکار هم وي. د ځانګړي استازي مرستیال (سیاسي) به له ځانګړي استازي سره په سلا مشوره او د هغه تر مستقیمې لارښوونې لاندې په نوموړې څانګې کې مختلف فعالیتونه څاري. هغه عمده چارې چې د سیاسي څانګې په د ننه کې باید توحید شي، او ځینې یې اوس مهال د ماموریت له لارې ترسره شوې، په دې ډول دي: (الف) د داخلي سیاسي ثبات ملاتړ؛ (ب) په ۲۰۱۸ او ۲۰۱۹ کلونو کې د باوري ټاکنو ملاتړ؛ (ج) د افغانانو په بشپړ مالکیت د سولې پروسې او پخلاینې ملاتړ؛ او (د) په افغانستان کې د سولې د خوندي کولو په موخه د افغانستان په اړه د سیمه ییزې همکارۍ ښه کول. ټولې دغه چارې په مستقیم ډول د لومړیو دوو لومړیتوبونو او په غیر مستقیم ډول د دریم لومړیتوب په لاسته راوړنې پورې تړلې.

۲۶. د داخلي سیاسي ثبات په تړاو، یوناما باید خپلې هڅې تقویه کړي څو هغه داخلي سیاسي اختلافات حل کړي، کوم چې د دولت ثبات ګواښي، سیاسي او قومي اختلافات لا پسې ژوروي او د سولې مذاکراتو لپاره د اړینې اجماع تر لاسه کول ستونزمن کوي. د افغان ادارو د پایښت او تمثیل د یقیني کولو لپاره، یوناما باید په سیاسي پروسو کې د ښځو او ځوانانو ګډون ته ځانګړې پاملرنه وکړي. دا باید د قانون واکمنۍ او د اساسي قانون د نورمونو په تړاو یوه با ثباته او ټول شموله سیاسي چاپیریال ته وده ورکړي او د مختلفو شریکبانو لپاره پراخه رسیدنه ترسره

کړي، چې تمرکز يې د دولت د اصلاحاتو د اجنډا او د دولتي ادارو د باور لپاره پر ملاتړ ترلاسه کولو او د شفافيت او احتساب پر ښه کولو وي.

۲۷. ماموريت بايد د دولت په غوښتنه، د هغو هڅو په ګډون چې د ټاکنيزې پروسې پاينښت، ريښتينولي او ټول شموليت تقويه کوي، د باوري او په پراخې کچې د منل شويو ټاکنو له مديريت سره مرسته وکړي. د دغه کاري کليدي عنصر به د ټاکنو د تنظيموونکو ادارو په تيره بيا د ټاکنو د خپلواک کميسيون او د ټاکنيزو شکايتونو د خپلواک کميسيون لپاره د هغوي د خپلواکو نقشونو په ترسره کولو کې د ظرفيت جوړونې د ملاتړ او د تخنيکي سلا مشورو برابرول وي. ماموريت بايد دغه راز له انتخاباتي ادارو سره د هغوي د عامه پوهاوي په فعاليتونو کې مرسته وکړي، څرنګه چې هغوي د ښې شوې انتخاباتي پروسې په اړه د سياسي اجماع او پوهاوي د رامنځ ته کولو په هڅه کې دي. دغه ډول هڅې د ملګرو ملتونو د ادارو او په پراخه کچه د نړيوالې ټولنې ترمنځ د يوې پياوړې همغږۍ غوښتنه کوي. اوس مهال، له ټاکنو سره د ملګرو ملتونو ملاتړ —د ولسي جرګې او ولسواليو شوراګانو د ټاکنو د ترسره کولو نېټه د ۲۰۱۸ کال جولای ټاکل شوې — د انتخاباتي ملاتړ د ټيم له خوا چې د يوناما او د ملګرو ملتونو د پرمختيايي پروګرام له عنصرونو تشکيل دی، برابر شوی. زه دغه توحيد شوې تګلار تاييدوم، کومه چې سياسي او تخنيکي عنصرونه سره يو ځای کوي او ښايي د ملګرو ملتونو نورې ادارې هم په کې شاملې شي؛ د پروګرام تطبيق به په بشپړ ډول د مرستندويانو د ملاتړ د تمويل له لارې ادامه وکړي.

۲۸. له طالبانو د سره د خبرو اترو په ګډون، په افغانستان کې د سولې پروسه بايد د افغانانو په مالکيت وي؛ که څه هم دغه راز سيمه او په پراخه کچه نړيواله ټولنه په دې مرسته کې ونډه او نفوذ لري، چې د سولې لپاره شرايط رامنځ ته کړي. د جون د شپږمې د کابل پروسې په کنفرانس کې، ولسمشر تاييد کړه، چې "يوه غښتلې يوناما به په دې پروسه کې يو کليدي همکار وي". په ورته ډول، نړيوالو او داخلي شريکبانو په ډاګه کړه، چې د ملګرو ملتونو په خير د يوه بې پرې فعال ښکيلتيا هرې دغه ډول پروسې ته د اعتبار او مشروعيت ورکولو لپاره اړين دي. که چيرې يې غوښتنه وشي، يوناما به د منځګړيتوب، د باور جوړونې د اقداماتو، انتقالي عدالت، د بشري حقونو او ولسي وګړو د ساتنې، د نړيوالو ارزښتونو او نورمونو د بسيجونې او د وسله والو مخالفينو د ګډون په اړه د سلا مشورو له لارې د افغانانو په مالکيت له دغې پروسې سره مرسته وکړي. د عامو خلکو ګډون به د دغه کار يوه کليدي برخه وي او د سولې په اړه د افغانانو د ډيالوګ په خير د ډيالوګ ملي نوښتونه به هغه مهم وسايل وي، چې له مخې يې بايد هڅې ترسره شي څو يقين شي چې په عنعنوي ډول د ګوښه شويو وګړو لکه د کليوالو او ليرې پرتو سيمو د اوسيدونکو، ښځو او ځوانانو نظريې او ليد لوري د لوړې کچې په سياسي پروسو کې په پام کې نيول شوي.

۲۹. د دې د هڅو د يوې برخې په خير چې د سولې پروسې لپاره مساعد چاپيريال رامنځ ته کړي، يوناما بايد د سولې د عالي شورا د کار او ظرفيت ملاتړ جاري وساتي، څرنګه چې شورا خپل فعاليتونه په ملي کچه د اجماع رامنځ ته کولو په لور سوق کوي. په دغو چارو کې ښايي د سولې د عالي شورا د کارمندانو او غړو روزنه، د پروسې له طرحې سره مرسته او د سولې د تړونونو په تطبيق کې د سياسي او تخنيکي مهارتونو برابرول شامل وي. ماموريت به همدارنګه په دې کار وکړي، چې د سولې جوړونې په چارو کې له مدني ټولنې، قومي مشرانو، د ښځو له ډلو او ديني مشرانو سره د حکومت ښکيلتيا او ګډون غښتلی کړي. اوس مهال به ماموريت له ځايي شريکبانو سره د سولې په وړاندې د حکومت د عمومي تګلارې په بسيجولو کې مرسته وکړي. په پای کې، د يوناما ساحوي دفترونه به د لوړې کچې سولې پروسې لپاره په چمتوالي کې چې د سولې د روانو نوښتونو له خوا د تر لاسه شوې پوهې پر بنسټ ولاړ وي، د ټولنيزې همکارۍ د تقويه کولو له لارې په ځايي کچه خپل فعاليتونه زيات کړي. دغه کار د ساحوي کارمندانو د ماموريت په لومړيتوب لرونکو فعاليتونو کې له يو ځای کولو سره، په پراخه کچه د ساحوي شتون د ساتلو غوښتنه

کوي (لاندې شپږم برخه وګورئ). په منځ مهاله موده کې، یوناما به د منځګړیتوب د هڅو پر بسیجونه تمرکز وکړي، که چیرې یې د دولت له خوا غوښتنه وشي.

۳۰. د سیمه ییزې همکارۍ او ډیالوګ په تړاو، د افغان سولې پروسه له موجوده هغه د یوه پراخ نړیوال ملاتړ او همکارۍ غوښتنه کوي. د دغې موخې تر لاسه کول د ملګرو ملتونو د یوه زیات شوي رول غوښتنه کوي، څو دوه اړخیزه او څو اړخیزه همکاري وده ومومي. د دې سپارښتنه کیږي، چې یوناما له حکومت سره په نږدې همغږۍ خپل ملاتړ څرنګه چې لازم وي د سیمه ییز ډیالوګ او سیمه ییزو نوښتونو لپاره زیات کړي ، په ځانګړې ډول د خوندي او با ثباته افغانستان لپاره د سیمه ییز امنیت او همکارۍ په اړه د اسیا زړه-استانبول پروسه او د سولې او امنیتي همکارۍ لپاره د کابل پروسه. د حکومت له لومړیتوبونو له لومړیتوبونو سره سم، دا د مرکزي اسیا لپاره ملګرو ملتونو د پیشګیرانه ډیپلوماسۍ د سیمه ییز مرکز د پراخې همکارۍ په ګډون، چې له تروریزم سره د مبارزې په اړه سیمه ییزه همکاري زیاته کړي په داسې حال کې چې خپل عمومي تمرکز د سولې د خبرو اترو لپاره پر ملاتړ رامنځ ته کولو وساتي، د نویو شویو هڅو غوښتنه کوي. ماموریت به همدارنګه په ایران او پاکستان کې د اړیکو د تسهیلولو پر خپلو دوو دفترونو زیاته اتکا وکړي.

۳۱. د دې تاسیس شویو سیمه ایزو پروسو سربیره، یوناما باید د افغانستان په اړه د سیمه ییزې موافقې د بیاځای کولو لپاره د خپل ظرفیت د لوړولو هڅه وکړي. دا پروسه باید د سولې د ترویج په برخه کې د یوناما د زیاتیدونکې تمرکز سره یو ځای پر مخ یووړل شي. د حکومت د سولې او پخلاینې ستراتیژي باید د افغانستان او د دې هیواد د ګاونډیانو تر منځ د باور جوړولو لپاره یو فرصت برابر کړي او په سیمه ییزه کچه د لا زیاتو همکاریو لپاره فضا را منځ ته کړي.

۳۲. د ملګرو ملتونو د سرچینو د لا موثرې کارونې او د لا زیاتو همکاریو لپاره د تقاضا سره په سمون کې، یوناما باید لکه څنګه چې یادونه یې د مخه وشوه، د آسیا لپاره د مخه نیونکې ډیپلوماسۍ لپاره د ملګرو ملتونو د سیمه ییز مرکز سره چې په عشقابات کې موقعیت لري ډیر نږدې کار کوي. د هغه د سیمه ییز ماموریت له مخې، سیمه ییز مرکز د دې لپاره ټاکل شوی چې د اړوندو سیمه ییزو سازمانونو او نورو کلیدي شریکبانو سره یو ځای د منځنۍ آسیا پنځه هیوادونه د بحث کولو لپاره را غونډ کړي، ترڅو د یوې لا همغږۍسیمه ییزې کړنلارې په اړه بحث وکړي او همداراز د سولې د نهایي پروسې څخه ملاتړ وکړي.

۳۳. د هغو دریو لومړیتوبونو سره د ملاتړ په موخه چې د مخه تشریح شوي، د یوناما د سیاسي چارو څانګه کېدای شي د منځګړیتوب، پخلاینې، د قانون د حاکمیت (اساسي قانون)، د مدنې ټولنو د پوهاوي، انتقالي عدالت د مسلو او وسله والو ډلو / امنیت په برخو کې د ځانګړو وړتیاوو ته اړتیا ولري. سیاسي څانګه به د نورو شیانو له جملې څخه، په منځګړتوب، پخلاینې، انتقالي عدالت، د تروریزم په وړاندې په مبارزې او د رژیمونو د بندیزونو په حواله د ملګرو ملتونو په لا زیاتې پوهې تمرکز وکړي. کیدای شي اضافي ملاتړ د موجوده موقتي میکانیزمونو د فعاله کارونې، د بیلګې په توګه، د سکرتریت د سیاسي چارو د ریاست د لوړې کچې د منځګړیتوب د سلاکارانو د چمتو ټیم او د ملګرو ملتونو د پراخ سیستم د پوهې او تخصص په اړه د تمرکز له لارې بشپړ شی.

۳۴. د ماموریت په دننه کې د یوه پیاوړې تحلیلي ظرفیت لپاره د دغو فعالیتونو مشخصولو ته اړتیا ده. د شخړو مخنیوی، د منازعې مدیریت او د سولې د اغیزمنو ستراتیژیو طرح او تطبیق ټول هغه څه دي چې د رشد په حال کې د تاوتریخوالې د کره او پر وخت تحلیل او د شخړو په اصلي فعالینو، او همدارنګه د دوی د موقف او فکتورونو په درک او نفوذي فاکټورونو پورې تړاو لري. په دې کې د سیاسي اقتصاد په اړه متقابل درک شامل دی کوم چې د جګړو په ترخ کې راڅرګندیږي، کومې چې پریکړې نورې هم ستونزمنې کوي. په دې برخه کې، زه سپارښتنه کوم چې د متقابل روش سره سم یو ځای شوی تحلیلي ظرفیت دې د سیاسي څانګې سره یو ځای شي.

۳۵.   د نړیوال پوځي حضور کمیدو ته په کتو او د مشورې، روزنې او د مرستې چارو ته د هغه د نقش په بدلیدو سره، زه د پوځي مشاوریت د څانګې د لغوه کیدو سپارښتنه کوم. د مشر پوځي مشاور یو پوسټ باید د سیاسي چارو په څانګه کې وساتل شي ترڅو د نړیوالو پوځي ځواکونو سره اړیکه ونیسي، په مجموع کې د ډویژن/فرقې او ماموریت د مربوطه تحلیل سره مرسته وکړي او د ماموریت مشرتابه ته د پوځي چارو په اړه په ستراتیژیکه کچه مشوره چمتو کړي. زه همدا شان سپارښتنه کوم چې د پولیسو د مشاوریت څانګه او د قانون د حاکمیت واحد هم ختم شي. د قانون د حاکمیت د کمې کچې ظرفیت باید د سیاسي چارو په څانګه کې مستقر شي ترڅو د عدالت او فساد ضد اقداماتو په ګډون د هنجارې مسلو په اړه مشورې برابرې کړي.

۳۶.   هغه وړاندیز چې د یو شمیر لوړ پوړو افغان چارواکو او نړیوالو شریکبانو لخوا رامینځته شوی و او د ستراتیژیکې بیاکتنې په ترڅ کې د نورو له خوا تر پوښتنې لاندې نیول شوی د ملګرو ملتونو د لوړې کچې د سیمه ییز استازې لپاره یو بلالقوه عامل و. زه باور لرم چې وخت او شرایط په موجوده وخت کې نه دي ارزول شوي چې وښیي د دې نوښت لپاره مناسب دي. د داخلي سیاست او تاکنیزو پرمختګونو په تړاو په کابل کې زما په ځانګړې استازي مخ پر زیاتیدونکې غوښتنې ښایي په وروستي مرحله کې د کار د داسې یوه ویش او تقسیم وړاندوینه وکړي.

## شپږم. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی او د ملګرو ملتونو د هیواد د کچې ټیم: د سولې لپاره د پرمختیا تطبیق

۳۷.   دریم ستراتیژیک لومړیتوب کوم چې د سولې د خوندي کولو لپاره ترتیب شوي د سیاسي هڅو د پیاوړتیا او ترویج لپاره خورا مهم دی. دا د حکومت د لومړیتوبونو سره په سمون کې د ملاتړ لپاره همغږي تضمینوي او د هغو اړینو جوړښتونو پراختیا ته وده ورکوي کوم چې د ۲۰۳۰ اجندا سره په سمون کې د دوامداره پرمختګ لپاره د اوږدې مودې ټولنیزې- اقتصادي پراختیا لپاره اړین دي.

۳۸.   د افغانستان ولسمشر د ملګرو ملتونو د ادارو د کار په حواله او د حکومت د لومړیتوبونو سره د سمون د ښه کولو د اړتیا په اړه اندیښنه څرګنده کړې. دا اندیښنه، له هغې جملې څخه د نورو افغان شریکبانو سره شریکه شوې. دوي همدارنګه په هغه اړتیا ټینګار وکړ چې موخه یې د هغه څه چې دوي ورته د لیږد/معاملې د لوړو لګښتونو د کمولو په سترګه ګوري، شفافیت ښه کړي، د ملي ظرفیت د ودولو په اړه  تمرکز ښه کړي او د دولت لپاره د شریکبانو شمیر را کم کړي. نور دولتي استازي، په تېره بیا هغه چې د اړوندو  وزارتونو سره دي او د ادارو سره اصلي تړونونه لري، د بیلابیلو ادارو د کار په اړه په ډېر شدت خبرې کړې دي. برسیره پردې، یو شمېر نړیوالو بسپنه ورکونکو څرګنده کړې چې د ملګرو ملتونو ادارې د پرمختیایي همکارۍ لپاره یوه مهمه او باوري وسیله پاتې شوې. ځکه نو زما سپارښتنه دا ده چې د ماموریت فعالیتونه چې موخه یې د نړیوال پرمختیایي کار همغږۍ او د لا زیات انسجام ترویج ده باید د ملي لومړیتوبونو سره په سمون کې کوم چې په ۲۰۱۶ کال د بروکسل په کنفرانس کې  د بسپنه ورکونکو هیوادونو له خوا تصویب شو د موثره رسولو په موخه ډېر تمرکز وشي، چې په لاندې ډول بیان شوي.

۳۹.   د دویمې ستنې یا څانګې مشري به د مرستیال ځانګړي استازي/ استوګن همغږي کونوکي/بشر پالنې د چارو د همغږي کوونکي، ځوک چې زما د ځانګړي استازي سره په مشوره او د هغه تر لارښود لاندې د څانګې د کار او د ملګرو ملتونو د هیواد د ټیم د مشرتابه او نظارت مسؤل دی، په غاړه وي. پورته یاد شوی شخص به دا مسؤولیت ولري څو د د دریم ستراتیژیک لومړیتوب په وړاندې د ملګرو ملتونو د سپارلو د چارو څخه ډاډ حاصل کړي. د دې لپاره چې د هیواد د ټیم په استازیتوب او په جلا توګه د بشر پالنې ټولنې او د بشر پالنې د چارو د همغږي کوونکي په حیث د هغه یا هغې د ظرفیت پر بنسټ د حکومت او نړیوالو تمویل کونکو سره اصلي شریکبانۍ او رابط شخص و اوسي، په دې اړه، سپارښتنه کیږي چې مرستیال ځانګړي استازي / استوګن همغږي کوونکي/ د بشر پالنې د چارو همغږي کوونکی مسولیت تفویض کړي.

۴۰. په یو شمیر محدودو پروګراماتیکو فعالیتونو کې د ښکیلتیا په ځای، په کومو کې چې په اوس حال کې د ښځو په اړه په ټولنه کې د هغوی د مردمي پولیس د نقش په اړه د تمویل کونکو له خوا تمویل شوې پروژه شامله ده ، ځانګه په ستراتیژیکه همغږۍ تمرکز کوي. په داسې حال کې چې ټول کوښښ کوي په هغو سیمو کې چیرې چې خلک مرستو ته اړتیا لري د عمل ټول بشردوستانه اصول مراعات کړي، د حکومت د لومړیتوبونو لپاره د لا زیاتې همکارۍ د ودې، او د ملګرو ملتونو د هیواد د کچې د ټیم د مشرتابه په ګډون، هغه مهمې دندې چې باید په دوهمه ستنه یا ځانګه کې یو ځای شي، هغه په افغانستان کې د نړیوالې ټولنې د ملکي هڅو د همغږۍ هغه دوامداره او پیاوړي ورتیا ده. دا دواړه فعالیتونه په مستقیم ډول د دریم ستراتیژیک لومړیتوب په لاسته راوړنو او په غیر مستقیمه توګه د لومړي او دوهم لومړیتوب د لاسته راوړنو سره تړاو لري.

۴۱. د ستراتیژیکې بیاکتنې د ټیم شریکانو د نړیوالې مرستې د همغږۍ په برخه کې، د تمویل کوونکو د همغږي د ښه کولو په شمول د یوناما د رول ستاینه کړې. د مرستیال ځانګړي استازي/ استوګن همغږي کوونکي / د بشر دوستانه چارو د همغږي کوونکي د مسؤلیتونو په زیاتیدو سره، یوناما باید داسې وسیلې په اختیار کې ولري د کومو په واسطه چې د ګډ همغږي کوونکي او د څارنې د مشترک رییس په توګه په اغیزمنه توګه مرسته وکړي.

۴۲. پداسې حال کې چې د ملګرو ملتونو نړیوال اهداف ، په ځانګړې توګه د پایښت لرونکي انکشاف لپاره د ۲۰۳۰ اجنډا منعکسوي، د پرمختیا لپاره د یوه متمرکز روش په هدف څو د لا زیات اغیزمنتوب او همغږۍ څخه ډاډ حاصل کړي، د ملګرو ملتونو پرمختیایي فعالیتونه باید د افغانستان د سولې او پراختیا د ملي چوکاټ سره نږدې شي. د پراختیا او بشري مرستو دواړو په ګډون، په ۲۰۱۶ کال کې، د ملګرو ملتونو ادارو په افغانستان کې ۱٫۳ ملیارد ډالر ولګول. په سلو کې ۹۰ برخه تمویل په شپږو موضوعي ساحو یعني (کرنه، تعلیم، روغتیا، بیرته راستنیدنه او بیا یو ځای کیدنه، د قانون د حاکمیت، او هنجاري فعالیتونه) کې وه چې د بیلابیلو ادارو له خوا پر مخ وړل شوي. خو دغه د ملګرو ملتونو د پرمختیایي مرستې د چوکاټ څخه یو څه توپیر لري، کوم چې د اوسني حکومت له تاسیس څخه وړاندې تشکیل شوی او د پنځو ستنو پر بنسټ ولاړ دی: مساوي اقتصادي پراختیا، بنسټیز ټولنیز خدمتونه، ټولنیز مساوات او بشري پانګه، عدالت او د قانون حاکمیت، او حساب ورکوونکي حکومتداري.

۴۳. د ملي لومړیتوبونو لپاره د سیستم د پراخ غبرګون څخه د اطمینان په خاطر، د ملګرو ملتونو د پرمختیایي سیستم (۲۰۱۷) د بیا رغونې په اړه زما د راپور سره سم، د ملګرو ملتونو د پرمختیایي مرستې د چوکاټ څخه د حکومت په سلا مشورې سره بیا کتنه کیږي څو د حکومت لخوا تایید شي. دا په پام کې ده چې هره موضوعي ساحه به یوه مخکښه اداره ولري چې د نورو سره مرسته وکړي او روښانه تعریف شوي مسولیتونه ولري او د اړوندو پایلو سره سم مرسته وکړي. ادارې باید د غوره خوړو د وړاندې کولو د انتخاب په حیث په چټکۍ سره ګډ پروګرامونه په پام کې ونیسي. داسې یوه تګلاره کولای شي د ملي ظرفیتونو د پیاوړي کولو او د لیږد د لګښتونو د کمولو د یوې وسیلې په حیث په ښه توګه د موازي پروګرام د پلي کولو میکانیزمونه را ټیټ کړي. پداسې حال کې چې د انساني فضا او اصولو او د بشري چارو همغږي کونکي مسؤلیتونو ته په بشپړ ډول درناوی کوي، دا همدارنګه کولای شي په افغانستان کې د پرمختیایي او بشري فعالیتونو تر منځ د ښې همغږۍ په برخه کې مرسته وکړي.

۴۴. د ستراتیژیکې همغږۍ د پیاوړتیا لپاره، اړتیا لیدله کیږي چې د سولې جوړونې د ماهرینو سره یو ځای د تمویل کونکو د همغږۍ د هڅو د ممکنه ورتیاوو ملاتړ نور هم و ارزول شي. د سیاسي ځانګې او د بشري حقونو د واحد سره د نږدې همکارۍ له لارې، دا هڅې د نورو شیانو تر څنګ کولای شي، په ملي او سیمه ییزو کچو کې د ملګرو ملتونو په کچه د سولې جوړونې د مناسبو تګلارو لپاره مشورې او ملاتړ ، د صف بندي په اړه خاص تمرکز، په ځانګړې توګه، د سولې د راتلونکي احتمالي ترون په اړه ملاتړ احتوا کړي. د سولې جوړونې دا ډول واحد کولای شي د څارنې او همغږۍ د ګډ بورډ د ملاتړ په موخه د ماموریت ملاتړ ته وده ورکړي.

۴۵. همدارنګه سپارښتنه کیږي چې په کابل او ساحوي دفترونو کې دي د حکومتدارۍ د څانګې شتون وتړل شي. د اغېزمنې او حساب ورکوونکې سیمه ییزې حکومتدارۍ د پراختیا لپاره د حکومت هڅې ممکن د یوناما په مرکزي دفتر کې (دوهمه څانګه) د ور متخصصینو د ورو ډلو څخه نیولې بیا تر هنجاري مشورې پورې ګټه واخلي. حتی د وقف شویو ساحوي کارمندانو پرته، کیدای شي دغه څو تنه کارپوهان د ماموریت د ساحوي دفترونو څخه د راپور ورکولو له طریقه اطلاع ترلاسه کړي.

۴۶. په داسې حال کې چې د څانګړي استازي مرستیال / استوګن همغږی کوونکی / د بشرپالنې د چارو همغږي کوونکی او د ملګرو ملتونو د هیواد د کچې ټیم به د افغانستان د لومړیتوبونو د فعالیت د ګډې همکارۍ لپاره حساب ورکونکي وي، د ملګرو ملتونو د سیستم اړوندې ادارې، وجهي صندوقونو او پروګرامونو به د پروګرام د اجزاوو د پلي کولو مسؤلیت ولري او د خپلو اړوندو ادارو مشرانو او اړوندو تمویل کونکو مشرانو ته حساب ورکوونکي وي. په هرصورت، تمه کیږي چې د هیواد د کچې ټیم به حکومت ته وښیي چې څنګه یې، په ټوله کې، د افغانستان د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ سره مرسته کړې، او د هغې وړتیا په ګډون چې په سکټوري او جغرافیائی بنسټ کې یې څنګه پیسې لګولې، تشریح کړي.

۴۷. دا تصدیق شوې چې د ملګرو ملتونو د سیستم د ادارو، وجهي صندوقونو او پروګرامونو انسجام له دې امله ننګول کیږي چې هره اداره د واک، بودیجې او مهال ویش بیلابیلې کربښې لري. برسېره پردې، ادارې د هغوي د فعالیتونو د تمویل لپاره د تمویل کونکو په مالي مرستو متکي دي او په ډېری مواردو کې هڅول کیږي چې د بسپنه ورکوونکو لومړیتوبونو ته ځواب ووایي، کوم چې کیدای شي تل د هغو لومړیتوبونو سره چې د افغانستان د سولې او پراختیا په ملي چوکاټ کې ښودل شوي، سمون و نه لري. په دې حواله، د دې ستنې د تشکیلونکو اجزاوو، په ځانګړې توګه، د بسپنه ورکونکو پیاوړې همغږۍ او د استوګن همغږي کوونکي ټیم تر منځ ښه انسجام کولای شي د ملي لومړیتوبونو سره په سمون کې (د بسپنه ورکوونکو د انسجام په شمول) همغږي پیاوړې کړي. په دې برخه کې، زه د ولسمشر د وروستۍ ژمنې څخه چې په دوره اي توګه د ملګرو ملتونو د هیواد د کچې د ټیم په غونډو کې ګډون کوي، هرکلی کوم.

## اووم. بشري حقونه: بې پرې توب او اعتبار

۴۸. د یوناما د بشري حقونو څانګه د ملګرو ملتونو د سیستم دریم رکن څرګندوي. د دې څانګې له خوا راپور ورکول په افغانستان کې د یوه بې طرفه حامي په توګه د ماموریت د ټولیز اعتبار یو مهم عنصر دی. د شخړې له خواوو سره ښکیلتیا او د ښه کیفیت بې طرفه او د غیر متناقض راپور ورکولو چارو د یوه بې طرفه ځوابویونکي په حیث د یوناما د تاسیس سره مرسته کړې. د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د وسله والو عناصرو سره خبرې اترې ، په تیره بیا له طالبانو سره ارزښتناکې ثابتې شوې، کیدای شي دا په راتلونکی کې مهمې وي او د لا زیاتو ریښتینو سیاسي خبرو لپاره زمینې برابرې کړي. د بشر پالنې د چارو د فعالینو لپاره د لاسرسي په اړه بشر دوستانه ډیالوګ او خبرې اترې به هم ادامه ومومي او همدا راز مهمه ده پر مخ ولاړې شي. دا اړینه ده چې د بشري حقونو څانګه په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د څارنې، راپور ورکولو او مدافعې لومړیتوب ؛ د وسله والې شخړې د اغیزمنو ماشومانو خوندیتوب؛ د جندر برابرۍ، ترویج او د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالی له منځه وړلو او په شخړو پورې د اړوند جنسي تاوتریخوالی؛ او د شکنجې مخنیوي ته دوام ورکړي. د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د تحقق پذیري د سیاست سره د سمون په شمول، دا واحد مسؤولیت لري چې د ملګرو ملتونو د هیواد د کچې د ټیم / د بشردوستانه استوګن ټیم پروګرامونو ته وده ورکړي.

۴۹. په داسې حال کې چې د څانګړي استازي مرستیال / استوګن همغږی کوونکی / د بشرپالنې د چارو همغږي کوونکی او د ملګرو ملتونو د هیواد د کچې ټیم به د افغانستان د لومړیتوبونو د فعالیت د ګډې همکارۍ لپاره حساب ورکونکي وي، د ملګرو ملتونو د سیستم اړوندې ادارې، وجهي صندوقونو او پروګرامونو به د پروګرام د اجزاوو د پلي کولو مسؤلیت ولري او د خپلو اړوندو ادارو مشرانو او اړوندو تمویل کونکو مشرانو ته به حساب ورکوونکي وي. په

هرصورت، تمه کیږي چې د هیواد د کچې ټیم به حکومت ته وښیي چې څنګه یې، په ټوله کې، د افغانستان د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ سره مرسته کړې، او د هغې وړتیا په ګډون چې په سکټوري او جغرافیائی بنسټ کې یې څنګه پیسې لګولي، تشریح کړي.

۵۰. زه غواړم د ښځو، سولې او امنیت او همدارنګه د سولې د عملیاتو په اړه د خپلواک هیئت د لوړې کچې د سپارښتنو په اړه د امنیت شورا د ۲۲۴۲(۲۰۱۵) پریکړه لیک سره په سمون کې د بشری حقونو د ځانګې څخه د جنسیت د مشر سلاکار پوسټ د خپل ځانګړي استازی دفتر ته انتقال کړم. دا جوړښت، چې تمه کیږي یوناما به په نړیواله کچه د خاصو سیاسي ماموریتونو سره ونښلوي، د جنډر مشر سلاکار ته به فرصت ورکړي چې ټولو واحدونو او د ماموریت مشرانو ته، لکه څنګه چې دوي د شخړې د مخنیوي په برخه کې د ښځو د لا ښه ګډون د ترویج لپاره کار کوي، په لا اغیزمنه توګه ستراتیژیکي او سیاسي مشورې برابرې کړي. د ماموریت په کچه اړتیا لیدله کیږي چې د جنډر د مسیر ورکولو په اړه د کارکونکو ظرفیت ښه شي تر څو د جنډر د مشر سلاکار هڅې د جنډر د ماهرینو په واسطه کومې چې په ټولو فعالو واحدونو کې ځای شوي په موثره توګه حمایت شي.

### اتم: په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي ساحوي شتون

۵۱. یوناما په اوس حال کې شپږ ساحوي (یو شمیر ولایتونه تر پوښښ لاندې نیسي) او شپږ ولایتي دفترونه (ځینې ولایتونه چې له خاص ستراتیژیک اهمیت څخه برخوداره دي، تر پوښښ لاندې نیسي ) لري. د یوناما ساحوي شتون د سازمان د اوږدې مودې ژمنې د څرګندولو او په ټول هیواد کې د افغانانو سره د ملاتړ په برخه کې د ښکیلتیا یوه له ښکاره څرګندونو څخه دی. دفترونه په ټول هیواد کې د پوهاوي جاري ترسره کوي، د ماموریت د تطبیق سره مرسته کوي او د ماموریت مرکزي دفترونو ته راپور ورکوي. په داسې حال کې چې ولسمشر د هغوي د ګټو، په خاص ډول د سیمه ییزې حکومتولۍ د ترویج په برخه کې د ماموریت د ښکیلتیا په اړه زیات شک درلود، د ستراتیژیکې بیاکتنې ټیم موندلې چې لکه څنګه چې سیمه ییز ځوابویونکي د دفترونو د کار ملاتړ کوي، نړیوال بسپنه ورکوونکي او شریکاباني هم په کلکه د دفترونو د کار ملاتړ کوي.

۵۲. د لګښت او امنیتي فاکټورونو سره په توازن کې، د هیواد په کچه د ماموریت د پراخ شتون څرګندې ګټې موجودي دي. په ۲۰۱۴ کال د نړیوال شتون د عمومي کمیدو د بهیر له پیل سره، د والیانو څخه د ټولنې تر مشرانو په محلي سطحه ځوابویونکو په وار وار د یوناما د پاتې کیدو لپاره ژورې هیلې څرګندې کړې، د افغانستان سره د نړیوالې ټولنې دوامداره ژمنه د یوه شمیر ژمنو له جملې څخه وروستۍ نښه ده. دا فکتور په ځانګړې توګه د هغو سیمو لپاره چې په کې لږکي اقلیتونه اوسي مناسب دی، چیرې چې ملګری ملتونه د یوه نړیوال سازمان په حیث شتون لري او همدارازیوه داسې حکومت ته چې د یوه فاصله لرونکي او بې تفاوته حکومت په سترګه کتل کیږي، ملګرو ملتونو ته د اندیښنو د انتقال د یوې وسیلې په توګه ګوري. دا په دې وخت کې هم په دې پورې تړاو لري چې په خپله خاوره د حکومت لاسرسی د پوښتنې وړ دی.

۵۳. په محلي کچه شریکبانو هم د منځګړیتوب ملاتړ کونکي رول ته اشاره کړې چې یوناما یې په ساحه کې د سولې د خپلو محلي نوښتونو له لارې ترسره کوي چې حقیقت کې نه شي کیداي له لرې واټن څخه تطبیق شي. سربېره پر دې، یوناما کولای شي د محلي مشرانو توجه هغو سیمو ته راواړوي په کومو چې ممکن دوي سترګې پټې کړې وي او په ځانګړي ډول د محلي ټولنو / چارواکو او په کابل کې د اړوندو وزارتونو ترمنځ د ارتباط په توګه عمل کوي. حتی که د دې چارې معلومول هم ستونزمن وي، دا یو بل مهم خو پټ کوښښ دی چې ریښتینې اغیزه لري.

۵۴. لکه څنګه چې سیمې د یاغیانو څخه پاکیږي، یا که چېرته د سولې د یوې رضایت لرونکې پروسې یا په محلي کچه د اوربند په پایله کې په لاسرسي کې زیاتوالی راځي، نو بیا اړتیا لیدله کیږي چې د عادي حالت د بیرته رامنځ ته کولو له چارو سره مرسته وشي. یوناما د داسې موثره هڅو د را منځ ته کولو په برخه کې مهم رول لري. دا

ډول هڅې د لرې واټن څخه نه شي تر لاسه کېدلای تر څو د ملګرو ملتونو د سیستم د ادارو، وجهي صندوقونو او پروګرامونو سره د زیاتو همکاریو اړتیا ته ځواب ووایي.

۵۵. د پوهاوي، لګښت او احتمالي امنیتي پایلو ته په کتو، د ستراتیژیکې بیاکتنې ټیم د موثریت، د لګښت د اغیزمنتیا او امنیتي ملاحظاتو ته په کتو یو شمیر سناریوګانې په پام کې نیولې. د هغو معیارونو پر بنسټ، سپارښتنه کوم چې یوناما یو ولایتي دفتر (فراه ولایت) وتړي؛ که چیرې شرایط اجازه ورکړي نو د یاد ولایت د پوهاوي چارې به د هرات د ولایت د سیمه ییز دفتر له خوا پر مخ یوړل شي. برسېره پر دې، د ماموریت د تطبق یا د کارکونکو د خوندیتوب په اړه له کومې مصالحې پرته په پاته پنځو ولایتي دفترونو کې د دندو د لا - ملي کولو امکان باید د ملګرو ملتونو د مرکزي دفتر او ماموریت له خوا وپلټل شي. په داسې حال کې چې د ولایتي دفترونو د ملي کولو چارې ممکن د ملګرو ملتونو د سیستم د ادارو سره بل القوه همغږي را منځ ته کړي، خو ځینې دندې، د بیلګې په توګه، سیاسي او د بشري حقونو نظارت او همدارنګه معلومات او د اطلاعاتو تکنالوژۍ ښایې ډېره حساسه ثابته شي. په پای کې، سپارښتنه کیږي چې ماموریت د راتلونکو کلونو په ترڅ کې په شپږو ساحوي دفترونو کې د کوچنیو، څو اړخیزو ډیسپلنې ټیمونو د جوړولو له لارې د کومو کارکونکي چې د بشري حقونو د کارکونکو په استثنا څوک چې د څرګندي عملیاتی خپلواکۍ د ساتلو اړتیا لري، په انفرادي توګه د مهارتونو پراخې مجموعي پروسس کړي، د نړیوالو پوستونو د راکمولو په انتخاب غور وکړي.

۵۶. که چیرې غړي هیوادونه د یوناما د ساحې شتون په اړه د چټک او زیات کمښت په اړه پریکړه وکړي، ډیری ملاحظات او نظرونه پلي کیږي. لومړی، د دفترونه د پام وړ کمښت به، په ماموریت باندې د اداري او لوجستکي بار له امله نه بلکه په عمده توګه د درک او د اړتیا وړ پیامونو له امله په پراونو کې ترسره شي. د یو شمیر دفترونو همزمانه تړل به په افغانستان کې د نړیوالې ټولنې د ژمنو د کمولو په توګه تعبیر شي. سیاسي چاپیریال ته، په ځانګړې توګه د ۲۰۱۹ - ۲۰۱۸ کال راتلونکو ټولټاکنو دورې ته د دې پریکړې به وخت کې ډیر پام وشي. دا به مهمه وي څو ډاډ ترلاسه شي چې د یوناما پاته شتون ټولې هغه سیمې په کومو کې د افغانستان بیلابیلې قومي ټولنې شتون لري تر پوښښ لاندې ونیسي تر هغو چې امنیت اجازه ورکوي . دوهم، د دفترونو د تړلو پریکړه اساسا قطعي وي. دریم، د قرارداد د فسخ کولو ، او لکه څنګه چې د تطبیق وړ وي، د خدمت څخه د انفصال د امتیازاتو، د بیا کاریدونکو دارایې ګانو او نورو لګښتونو د لیږد د اړتیا په نظر کې نیولو سره به د دفترونو د تړلو لپاره د یوه وخت لګښت په پام کې ونیول شي. د دفترونو د تړلو څخه د تمې وړ د لګښت سپما به فوري نه وي.

## نهم: د ماموریت ملاتړ او امنیت

۵۷. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو لپاره د مناسب امنیت چمتو کول یو وړاندې شرط دی. په افغانستان کې امنیتي وضعیت ستونزمن دی او دا د یوناما لپاره د هغو دندو او فعالیتونو د ترسره کولو په برخه کې چې د دې دفتر له خوا واک ورکړل شوی عملیاتي ننګونې را منځ ته کوي. په دې وروستیو کې، په کابل کې د ملګرو ملتونو ګڼ شمیر انګړونه د ۲۰۱۷ کال د مۍ د میاشتې د ۳۱ نیټې د ځانمرګي موټر بم د چاودنې له امله چې نړیواله ټولنه یې اغیزمنه کړه، زیانمن شوي. د هغوي تعمیرونو ته د پراخو زیانونو د اوښتو له امله، د بهرنیو هیوادونو یو شمیر زیات سفارتونه اړ شول څو خپل کارکونکي وغواړي. یوناما تر اوسه د خپلو کارکونکو شمیر نه دی کم کړی او د بخوا په شان خپلو کارونه ته دوام ورکوي. په هرصورت، د یاغیانو لخوا د لوړې کچې د شدیدو چاودیدونکو توکو د کارولو د امکان په وړاندې د تاسیساتو پیاوړتیا په ګډون، د ګواښ تدریجي انځور به د ملګرو ملتونو د امنیت د حالت د ښه کولو په موخه نورو سمونونو ته اړتیا ولري.

۵۸. امنیتي ترتیبات د دې اړتیا را منځ ته کوي څو د اختیاري دندو او فعالیتونو د مناسبې رسونې څخه چې د پام وړ لګښتونه اعمالوي، ډاډ حاصل کړي. په ۲۰۱۷ کال کې، د یوناما ټولټال ۲۴ سلنه بودیجه د امنیتي اړونده لګښتونو لپاره اختصاص شوې وه. د ملګرو ملتونو د سیستم د ادارو، وجهي صندوقونو او پروګرامونو په شمول، اړتیا لیدله کیږی هغه فرصتونه چې موخه یې د همغږۍ زیاتول، د لګښتونو شریکول او د لګښت د بیا رغونې ترسره

کول دی، تشخیص شي. په دې فعالیتونو کې د لا زیاتي همغږۍ له لارې د ګډو خدمتونو کارول، د بیلګې په توګه، د ساتندویه څواکونو او د سرچینو شریکول شامل دي. د امنیتي روزنې په برخو، عملیاتي مرکز، د کابل په هوایي ډګر، د هوایي ترمینل واحد او د هیواد په کچه په راډیو خونو کې لا وار له مخه همغږۍ تر لاسه شوې. د طبی خدمتونو د ګډ مرکز تاسیسولو ته باید د یوه لومړیتوب په سترګه وکتل شي څو د ملګرو ملتونو د ټولو کارکونکو لپاره د یوه متحد او لا عقلاني طبي پاملرنې څخه ډاډ حاصل شي.

۵۹. یوناما د هوایي شتمنیو د بیا تنظیم او د ملګرو ملتونو د بشر پالنې د چارو د هوایی خدماتو سره د ښه ادغام په شمول د تکثیر د مخنیوي؛ د ملاتړي خدمتونو د اغیزمنتیا ، د طبي او ځمکنی ترانسپورت د خدمتونو په شمول؛ او د ملګرو ملتونو د سیستم د ادارو، وجهي صندوقونو او پروګرامونو د برابرو شویو خدمتونو لپاره د بهبود شوې لګښت د حصول د سپما یا خوندي کولو په هدف یو شمیر اقدامات پیل کړي. د یوناما او د ملګرو ملتونو د سیستم د ادارو، وجهي صندوقونو او پروګرامونو ترمنځ د همغږۍ لپاره اضافي فرصتونه باید د مالي او امنیتي لاملونو لپاره وڅیړل شي.

**لسم. پایله**

۶۰. ما د هغه فرصت چې د امنیت شورا د غوښتنې لخوا د یوناما د ستراتیژیکې بیاکتنې لپاره چمتو شوی هرکلي وکړ. د ۱۵ کلونو څخه په زیاته موده کې، هغه هڅې چې موخه یې د یوه باثباته او سوکاله افغانستان جوړول و د نړیوالې ټولنې ستر هدف و، په دې برخه کې بې سارې هڅې او سرچینې برابرې شوې او په کومه کې چې ملګرو ملتونو مهم رول لوبولی دی. په هرصورت، اړتیا ده چې د وخت په تیریدو سره دا رول بدلون ومومي ځکه چې شرایطو تکامل کړی. لکه څنګه چې ستراتیژیکه بیاکتنه وړاندیز کوي، یو وار بیا د بدلون لپاره وخت را رسیدلی چې ملګري ملتونه په افغانستان کې څنګه کار کوي.

۶۱. افغانستان یو ځل بیا په ډیر نا امن او نازک حالت کې قرار لري. د فوري مصیبتونو ور هاخوا چې پر افغانانو اعمال شوې، وسله واله شخړه د هغو هڅو په وړاندې خنډونه جوړوي چې موخه یې د سیاسی او اقتصادي پرمختګ د را منځ ته کولو څخه ډاډ دی چې په پای کې به ټیکاو راولي. دا حالت د تل لپاره دوام نه شي کولای، افغانان یوې داسې راتلونکې ته اړتیا لري چې د هغو لپاره هیلې را منځ ته کړي. د سولې د پروسې پرته، زموږ د ټولو ګډو هڅو دوام او پایداري به چې موخه یې افغانستان ته د ټیکاو او سوکالي راوړل دي، تر پوښتنې لاندې راشي .

۶۲. زه سپارښتنه کوم چې د ستراتیژیکې بیا کتنې موندنې لکه څنګه چې د یوناما په موجوده راپور کې ځای شوې د یوناما په راتلونکې ماموریت کې شاملې شي. زه همدارنګه غواړم د عراق لپاره زما د ځانګړې استازي او د عراق لپاره د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي مشر ښاغلي یان کوبیش څخه د ستراتیژیکې بیا کتنې د پر مخ وړلو او د افغانستان لپاره زما د ځانګړي استازي او د یوناما له مشر، ښاغلي تادامیچي یاماموتو څخه د ماموریت د مشر تابه او همدارنګه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د کارکونکو څخه د هغوي د ملاتړ او په ستراتیژیکه بیا کتنه کې د هغوي د ګډون له امله مننه کوم. همداشان غواړم د ټولو هغو شریکانو، په ځانګړې توګه د افغان شریکانو څخه چا چې د بیا کتنې لپاره په سخاوتمندانه ډول د یوناما د نقش په اړه خپل نظریات وړاندې کړل، مننه وکړم. د ماموریت او ملګرو ملتونو د اړوندو نهادونو د بیا تنظیم او د راتلونکې تمرکز لپاره زما سپارښتنې هغه نظر پام کې نیسي چې د یوناما د مهم نقش په تړاو د یو شمیر شریکانو له خوا څرګند شوی چې موخه یې د نه اجتناب وړ خنډونه سربیره، د سولې، ټیکاو او سوکالي په لور د افغانستان د پرمختګ څخه ملاتړ دی. د حکومت او یوناما ترمنځ د ستراتیژیکو همکاریو پیاوړتیا به په راتلونکې کې، په ځانګړې توګه، په افغانستان کې د تل پاتې سولې او پرمختګ لپاره د نړیوالې ټولنې د ملاتړ د موثره پلي کولو لپاره کلیدي وي.